# د اِستَر کِتاب

## پېژندګلو

د اِستَر په کِتاب کښې د يوې ښائسته يهودى جينۍ قيصه ده چا چې خپل ژوند په خطره کښې واچولو چې د خُدائ پاک خِدمت وکړى او خپل خلق بچ کړى. مالِک خُدائ اِستَر راوچته کړه چې د هغۀ خلق آزاد کړى لکه څنګه چې هغۀ حضرت موسىٰ، حضرت يشوَع، حضرت يوسف او نور داسې ډيرې هستۍ راوچتې کړې وې چې د هغۀ خلق د بربادۍ نه بچ کړى. د اِستَر په کِتاب کښې خُدائ پاک د دې ټولې واقعې درج کړى دى. اِستَر د جلاوطنو په مينځ کښې په فارس کښې اوسېده او د حضرت عيسىٰ مسيح نه څلور سوه اتيا کاله وړاندې د بادشاه مَلِکه جوړه شوه. همان چې په فارس کښې آفسر وو هغۀ غوښتل چې د يهوديانو اقليت برباد کړى خو خُدائ پاک اِستَر د هم داسې وخت دپاره غوره کړې وه چې د هغۀ لوظ کړے شوى خلق بچ کړى. په دې کِتاب کښې مونږ ګورو چې د خُدائ پاک قادر لاس د خپلو خلقو حفاظت کوى او دا موضوع څرګندوى چې هر څۀ د هغۀ په قابو کښې دى. د حفظ کولو دپاره ۴:۱۴ آيت ”د دې نه څوک خبر دى کېدے شى چې تۀ هم د دې وخت دپاره مَلِکه جوړه شوې يې.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مَلِکه وشتی د اخسویرس بادشاه خِلاف بغاوت کول

١-٢ د فارس په مرکزی ښار سوسه کښې اخسویرس
بادشاه د خپل شاهی تخت د هِندوستان نه تر ایتهوپیا پورې په
یو سل او اوویشتو صُوبو باندې حکومت کولو. ٣ د هغهٔ د
بادشاهۍ په دریم کال هغهٔ خپلو ټولو آفسرانو او وزیرانو له
یوه لویه مېلمستیا وکړه. د فارس او د مادی فوجی آفسران
هم موجود وُو او داسې د صُوبو حکمرانان او عزتمند سړی
هم موجود وُو. ٤ په پوره شپږو میاشتو کښې هغهٔ د شان
او شوکت او عظمت سره د شاهی دربار د ټول دولت نمائش
وکړو. ٥ د هغې نه پس، بادشاه ټولو خلقو ته د سوسه په
مرکزی ښار کښې یوه لویه مېلمستیا وکړه، چې مالداره او
غریبانان په کښې یو شان شامل وُو. دا مېلمستیا پوره یوه
هفته جاری وه او دا د شاهی محل په باغونو کښې شوې وه.
٦ دربار د آسمانی رنګ او د سپین رنګ د مالوچو جوړو
شوو پردو باندې ښائسته کړے شوے وو، د سنګِ مرمرو په
ستنو باندې د سپینو زرو د کَړو سره د کاسنی رنګ د ښې
لتې د مزو سره تړلے شوې وې. د سرو زرو او سپینو زرو
کټُونه په دربار کښې اېښودے شوی وُو، د دربار فرش د
سپین سنګِ مرمر، سور قیمتی کاڼی، د ځلېدونکې ملغلرو او
د آسمانی رنګ د فیروزو نه جوړ شوے وو. ٧ د سرو زرو
په پیالو کښې شراب ورکول چې هره یوه پیالۍ به د بلې په
شان نهٔ وه او بادشاه به په شاهی میو کښې د سخاوت نه کار
اخستلو. ٨ د شرابو په څښلو کښې حد مقرر نهٔ وو، بادشاه
د محل نوکرانو له حُکم ورکړے وو چې د هر چا زړهٔ چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځومره غواړې نو هغه ښځلے شی. ۹ هم په دې دوران
کښې، د شاهی محل دننه مَلِکه وشتی د ښځو دپاره مېلمستيا
کړې وه. ۱۰ د خپلې مېلمستيا په اوومه ورځ باندې بادشاه
په نشه کښې وو او ښۀ په سور کښې وو، نو هغۀ اووۀ
خصيان راوغوښتل کوم چې د هغۀ ذاتى خِدمتګاران وُو،
مهُومان، بِزتا، خربونا، بِګتا، ابګتا، زتار او کرکس. ۱۱
بادشاه هغوئ ته حُکم وکړو چې مَلِکه وشتی دننه راولئ چې
شاهی تاج يې په سر وی. مَلِکه يوه ښائسته ښځه وه او بادشاه
غوښتل چې د هغې حُسن آفسرانو او خپلو ټولو مېلمنو ته
وښائی. ۱۲ خو کله چې خِدمتګارانو مَلِکه وشتی ته د بادشاه
د حُکم په حقله ووئيل، نو هغې د راتلو نه اِنکار وکړو. نو په
دې باندې بادشاه د غصې نه تک سور شو. ۱۳ نو دا د
بادشاهانو رِواج وو چې د قانون او حُکمونو د سوالونو په
حقله يې د ماهِرانو رايې معلوموله، نو هغۀ خپل هغه مشيران
راوغوښتل، چې هغوئ ته به پته وه چې څۀ کول په کار دی.
۱۴ کوم مشيران به چې بادشاه له ورتلل نو هغه کارشينا،
شتر، ادماتا، ترسيس، مرس، مرسنا او مموکان وُو، دا اووۀ د
فارس او مادى هغه آفسران وُو چې په بادشاهۍ کښې يې د
ټولو نه اوچتې مرتبې لرلې. ۱۵ بادشاه دې سړو ته ووئيل،
”ما، يعنې اخسويرس بادشاه، خپل خصيان د يو حُکم سره
مَلِکه وشتی ته ولېږل او هغې د دې حُکم د منلو نه اِنکار
وکړو. قانون د دې په حقله څۀ وائی چې مونږ د هغې سره
څۀ وکړُو؟“ ۱۶ نو مموکان بادشاه او د هغۀ آفسرانو ته
ووئيل، ”مَلِکه وشتی نۀ صرِف د بادشاه بې‌عزتی کړې ده بلکې
هغې د آفسرانو او د ټول قوم بې‌عزتی يې کړې ده. ۱۷ د
بادشاهۍ هره يوه ښځه چې خبر شی چې مَلِکه څۀ کړی دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه به خپل خاوند ته سپک کتل شروع کړی. هغوئ به
وائی چې اخسویرس بادشاه مَلِکه وشتی له حُکم ورکړو چې
راشه، خو هغې اِنکار وکړو. ۱۸ نن چې د فارس او مادی د
شاهی آفسرانو ښځې د مَلِکه د دې کار نه خبر شی نو هغوئ
به هم د خپلو خاوندانو سره هم دغه شان د بې‌عزتۍ سلوک
کوی او داسې به دا معامله ډېره خرابه شی. ۱۹ بادشاه
سلامت، کهٔ ستا رضا وی، نو شاهی فرمان جاری کړه چې
وشتی دې بیا هیڅکله د بادشاه په مخکښې نهٔ حاضرېږی. دا
حُکم وکړه چې دا د فارس او مادی په قانون کښې ولیکلے
شی، نو داسې به هیڅوک هم دا نهٔ شی بدلولے. بیا د هغې د
مَلِکه عهده د هغې نه زیاتې حقدارې ښځې له ورکړه. ۲۰ کله
چې ستا د دې فرمان پته په دې لویه بادشاهۍ کښې ولګی، نو
هره ښځه به د خپل خاوند ښهٔ عزت کوی، کهٔ هغه مالداره
وی او کهٔ غریب وی.“ ۲۱ د بادشاه او د هغهٔ د وزیرانو دا
خبره خوښه شوه او مموکان چې کومه مشوره ورکړې وه نو
بادشاه هم هغه شان وکړل. ۲۲ هغهٔ هرې شاهی صُوبې ته د
هغه صُوبې په ژبه او رسم‌الخط کښې یو پیغام ولېږلو، چې په
کښې وئیلے شوی وُو چې هر یو خاوند به د خپل کور مشری
کوی.

## د اِستَر مَلِکه جوړېدل

۲ ۱ وروستو، کله چې د بادشاه غصه سړه شوې وه، نو
هغهٔ بیا هم د وشتی د عمل او د هغې خِلاف د فرمان په حقله
سوچ کولو. ۲ نو د بادشاه خادِمانو هغهٔ له مشوره ورکړه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”مونږ به ستا دپاره يو څو ښائسته ناوادۀ شوې پېغلې ولټوُو.
۳ تۀ د بادشاهۍ په هره يوه صُوبه کښې آفسران مقرر کړه
او هغوئ له حُکم ورکړه چې هغوئ ټولې ښائسته پېغلې په
مرکزى ښار سوسه کښې ستا د زناناؤ ځائ ته راولى. هيجا
څوک چې د بادشاه د زناناؤ مشر دے او خصى دے هغه به
د هغوئ خيال ساتى او د هغوئ د سنګار بندوبست به کوى.
۴ نو چې کومه پېغله ستا ډېره خوښه شى نو هغه بوځه او
د وشتى په ځائ يې خپله مَلِکه جوړه کړه.“ نو بادشاه ووئيل
چې دا يوه ښۀ مشوره ده، نو هغۀ په دې خبره باندې عمل
وکړو. ۵ په هغه وخت کښې هلته په سوسه کښې يو يهودى
اوسېدو چې نوم يې مردکى وو او هغه د يائير زوئ وو، هغه د
بنيامين د قبيلې وو او د قيس او سِمعى د اولاد نه وو. ۶
کله چې د بابل بادشاه نبوکدنضر د يهوداه بادشاه يهوياکين د
يروشلم نه بابل مُلک ته بوتلو، د قېديانو يوه ډله هم ورسره
وه، او مردکى هم په هغوئ کښې وو. ۷ د هغۀ يوه د ترۀ
لور اِستَر وه، چې د هغې عبرانے نوم هدسا وو، هغه يوه
ښائسته پېغله وه او ښۀ کړۀوړۀ يې وُو. د هغې د مور او پلار
د مرګ نه پس، مردکى هغه اخستې وه او د خپلې لور په توګه
يې راوستې وه. ۸ کله چې بادشاه خپل نوے فرمان جارى
کړو او ډېرې پېغلې سوسه ته راوستلے شوې، نو اِستَر هم په
هغوئ کښې وه. هغه هم په شاهى محل کښې هيجا ته حواله
شوه، کوم چې د بادشاه د زناناؤ د ځائ مشر وو. ۹ د
هيجا اِستَر خوښه شوه او هغه پرې مِهربانه شو. هغۀ
سمدستى د هغې د سنګار او د خاص خوراک بندوبست
وکړو. هغۀ ورله د بادشاه د زناناؤ په ځائ کښې د ټولو نه ښۀ
ځائ ورکړو او د هغې د خِدمت دپاره يې اووۀ پېغلې مقررې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې چې د شاهی محل نه په خصوصی توګه خوښې کړې
شوې وې. ۱۰ نو د مردکی د نصيحت په وجه، اِستَر خپل
قوم او خاندان پټ ساتلے وو. ۱۱ مردکی به هره ورځ د
بادشاه د ښځو د ځائ نه بهر د دې دپاره ګرځېدو راګرځېدو
چې د دې پته ولګوی چې اِستَر څنګه ده او په هغې باندې څۀ
کيږی. ۱۲ د ښځو سنګار يو کال جاری وو، د خوشبودار
چيزِ د تېلو مالش شپږ مياشتې او د خاص خوشبو او تېلو
مالش نورې شپږ مياشتې جاری وو. د هغې نه پس، هره يوه
پيغله به وار په وار اخسويرس بادشاه له بوتلے شوه. ۱۳
کله چې هغه به د بادشاه د ښځو ځائ نه محل ته تله، نو چې
هغې به څنګه جامې غوښتلې نو هغه به يې اغوستې. ۱۴
داسې به وشو چې کله به هغه هلته د ماښام تلله او په وړپسې
سحر به هغه د بادشاه د ښځو يو بل ځائ ته بوتلے شوه او
شعشجز خصی د هغې خيال ساتلو، چې کوم د بادشاه د
وينځو مشر وو. هغه به تر هغې پورې بيا بادشاه له نۀ ورتله
ترڅو چې بادشاه به يې ښۀ خوشحاله کړے نۀ وو او بادشاه
به هغه په نوم رابللې نۀ وه. ۱۵ نو هغه وخت راغلو چې اِستَر
بادشاه له لاړه شی. اِستَر د ابی‌خېل لور او د مردکی د ترۀ
لور وه، چې مردکی هغه د خپلې لور په توګه اخستې وه. کله
چې د هغې وار راغلو، نو هغې هم هغه جامې اغوستې وې د
کومو مشوره چې د بادشاه د ښځو د کور مشر هيجا نومې
خصی له ورکړې وه، اِستَر چې چا هم ليدله نو د هغۀ به
خوښېدله. ۱۶ نو د اخسويرس د بادشاهئ په اوؤم کال، په
لسمه مياشت يعنې د طيبت په مياشت کښې، اِستَر شاهی
محل ته اخسويرس بادشاه ته راوستلے شوه. ۱۷ اِستَر د
بادشاه د نورو ټولو پيغلو نه زياته خوښه شوه، نو ځکه يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې له زړهٔ او مينه ورکړه. هغهٔ شاهی تاج ور په سر کړو او
د وشتی په ځائ يې مَلِکه جوړه کړه. ۱۸ بيا بادشاه د اِستَر
د درناوی دپاره يوه لويه مېلمستيا وکړه او خپلو ټولو آفسرانو
او وزيرانو له يې دعوت ورکړو. هغهٔ د ټولې بادشاهۍ دپاره په
هغه ورځ د چُهتۍ اِعلان وکړو او هر چا له يې قيمتی تُحفې
ورکړې.

## مردکی د بادشاه ژوند بچ کوی

۱۹ په دې دوران کښې بادشاه مردکی د محل آفسر مقرر
کړے وو. ۲۰ اِستَر تر اوسه پورې خپل قوم او خاندان پټ
ساتلے وو، لکه څنګه چې مردکی ورته وئيلی وُو. او څنګه
چې هغې په ماشومالی کښې د مردکی خبره منله اوس يې
هم منله. ۲۱ په هغه وخت کښې چې مردکی په محل کښې
دفتر ونيولو، بِګتان او ترش، د محل دوه هغه خصيانو کومو
چې د اخسويرس بادشاه کوټو ته د ننوتلو د ځائ څوکيداری
کوله، هغوئ د بادشاه خِلاف شول او د هغهٔ د وژلو منصوبه
يې جوړه کړه. ۲۲ خو مردکی د دې منصوبې نه خبر شو او
دا خبر يې مَلِکه اِستَر ته ورسولو. بيا هغې بادشاه ته ووئيل
چې مردکی زهٔ د دې نه خبر کړې يم. ۲۳ کله چې د
منصوبې تفتيش وشو او پته ولګېده چې هغه خبر رښتيا وو،
نو هغوئ په دار باندې ځوړند کړے شول. بادشاه حُکم وکړو
چې دا واقعه دې د شاهی تاريخ په کِتاب کښې وليکلے شی.

## د همان د يهوديانو د تباه کولو منصوبه جوړول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ ۱ خۀ موده وروستو اخسويرس بادشاه همان نومې
سړی له ترقی ورکړه او د وزيرانو مشر يې جوړ کړو. همان د
اجاج د قوم همداتا زوئ وو. ۲ بادشاه خپلو ټولو آفسرانو
له حُکم ورکړو چې همان ته د عزت نه ټيټيږئ، خو مردکی يې
عزت نۀ کولو او نۀ ورته ټيټيدو. ۳ نورو شاهی آفسرانو د
هغۀ نه تپوس وکړو چې، ”تۀ د بادشاه د حُکم نافرمانی ولې
کوې؟“ ۴ هغوئ به هره ورځ ورته وئيل، خو هغۀ به ورته
غوږ نۀ نيولو. هغۀ به وئيل، ”زۀ همان ته نۀ شم ټيټيدلے ځکه
چې زۀ يهودی يم.“ نو هغوئ همان د دې نه خبر کړو، هغوئ
غوښتل چې وګوری چې هغه به د مردکی دا رويه برداشت
کړی کۀ نه. ۵ کله چې همان ته پته ولګيده چې مردکے
هغۀ ته د عزت نه نۀ ټيټيږی نو همان سخت غصه شو، ۶
او کله چې خبر شو چې مردکے يهودی دے، نو همان دا
فيصله وکړه چې هغه به نۀ صرف مردکی له سزا ورکوی
بلکې هغۀ دا منصوبه هم جوړه کړه چې د فارس په بادشاهۍ
کښې هر يو يهودی ووژنی. ۷ د اخسويرس بادشاه د
حکومت په دولسم کال، په وړومبۍ مياشت يعنې د نسان په
مياشت، همان حُکم وکړو چې پوريم يعنې پچه دې واچولے
شی چې دا معلومه کړی چې د دې منصوبې دپاره صحيح
مياشت کومه يوه ده. نو د دولسمې مياشتې يعنې د ادر
مياشتې ديارلسمه ورځ خوښه کړے شوه. ۸ نو همان د
بادشاه په مخکښې حاضر شو او ورته يې ووئيل، ”ستا په
ټوله بادشاهۍ کښې د خلقو يو قِسم نسل خور دے او دا په
هره صُوبه کښې موندلے شی. هغوئ داسې رِواجونه کوی
چې هغه د نورو ټولو خلقو په شان نۀ دی. د دې نه علاوه،
هغوئ د بادشاهۍ قانون هم نۀ منی، نو دا ستا دپاره د فائدې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبره نهٔ ده چې هغوئ برداشت کړي. ﴿٩﴾ بادشاه سلامت، کهٔ ستا رضا وی، نو يو فرمان جاری کړه چې هغوئ دې ووژلے شی. کهٔ تا داسې وکړل، نو زهٔ به د بادشاهئ د اِنتظام دپاره د درې لاکه او څلوېښتو زرو کيلو نه زيات سپين زر په شاهی خزانه کښې کېږدم.“ ﴿١٠﴾ بادشاه خپله هغه ګوتمه وويستله، چې هغه به په سرکاری فرمان باندې د مهر لګولو دپاره استعمالېدله او دا يې د يهوديانو دشمن د همداتا زوئ همان له ورکړه چې دے د اجاج د اولاد نه وو. ﴿١١﴾ بادشاه همان ته ووئيل، ”سپين زر ځان سره کړه او د خلقو سره هم هغسې وکړه څنګه چې دې زړهٔ غواړی.“ ﴿١٢﴾ نو د وړومبی مياشتې په ديارلسمه ورځ باندې همان د بادشاه منشيان راوغوښتل او يو فرمان يې جاری کړو چې د هرې صُوبې په ژبه او رسم‌الخط کښې دې د دې ترجمه وشی او ټولو حکمرانانو، حاکِمانو او آفسرانو ته دې ولېږلے شی. دا فرمان د اخسويرس بادشاه په نوم جاری شو او د هغهٔ د ګوتمې مهر وربانديې لګېدلے وو. ﴿١٣﴾ پيغام رسونکو دا فرمان د بادشاهئ هرې صُوبې ته يوړو. په دې کښې دا خبرې ليکلے شوې وې چې صِرف په هغه ورځ يعنې د ادر مياشتې په ديارلسمه ورځ باندې دې ټول يهوديان، ځوانان، بوډاګان، ښځې او ماشومان ووژلے شی. هغوئ دې د بې‌رحمئ سره حلال کړے شی او چې هغوئ څهٔ لری نو هغه ترې نه واخلئ. ﴿١٤﴾ د دې فرمان د خبرو نه د هرې صُوبې خلق خکه خبرول په کار وُو، چې کله هغه ورځ راشی نو چې هر يو کس ورته تيار وی. ﴿١٥﴾ د بادشاه د حُکم په مطابق هغه فرمان د سوسه په مرکزی ښار کښې خلقو ته ورسولے شو او پيغام رسونکو دا خبر نورو صُوبو ته يوړو. په کوم وخت کښې چې د سوسه ښار په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګډوډۍ کښې اچولے شو نو بادشاه او همان شرابو څښلو ته
ناست وُو.

## د مردکی اِستَر نه مدد غوښتل

۴ ۱ کله چې مردکے د هغه هر څۀ نه خبر شو چې څۀ
شوی وُو، نو هغۀ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې. بيا هغۀ د
ټاټ جامې واغوستلې، سر يې په ايرو پټ کړو، په ښار کښې
روان شو او تر هغې پورې يې په چغو چغو او بد بد ژړل، ۲
چې د محل دروازې ته ورسېدو. هغه دننه ځکه لا نۀ ړو چې د
ټاټ په جامو کښې دننه د تلو اجازت نۀ وو. ۳ په ټولو
صُوبو کښې، چرته هم چې د بادشاه د فرمان پته لګېدلې وه،
نو هلته يهوديانو په چغو چغو ژړل. هغوئ روژه ونيوله، ژړا او
وير يې کولو او ډېرو کسانو د ټاټ جامې اغوستې وې او سر
يې په ايرو پټ کړے وو. ۴ کله چې د اِستَر ښځو
خِدمتګارانو او خصيانو اِستَر ته ووئيل چې مردکی څۀ کول،
نو هغه سخته پرېشانه شوه. نو هغې مردکی له څۀ جامې
ولېږلې چې د ټاټ جامو په ځائ يې واغوندی، خو هغۀ به نۀ
اخستلې. ۵ بيا هغې هتاک راوغوښتلو، هغه يو خصی وو
چې بادشاه د هغې نوکر کړے وو او هغې هغۀ ته وفرمائيل
چې مردکی له لاړ شه او د دې پته ولګوه چې څۀ مسئله ده
چې هغه دومره غمژن دے. ۶ هتاک د محل د دروازې
مخامخ د ښار چوک ته مردکی له لاړو. ۷ مردکی ورته ټوله
قيصه بيان کړه او دا يې هم ورته ووئيل چې کۀ ټول يهوديان
ووژلے شول نو همان په شاهی خزانه کښې د څومره پېسو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښودو وعده کړې ده. ٨ هغهٔ هتاک له د هغه فرمان يو
نقل ورکړو چې کوم په سوسه کښې جارى شوے وو، چې په
هغې کښې د يهوديانو د تباهۍ حُکم وو. مردکى هتاک ته
ووئيل چې دا اِستَر له يوسه او اِستَر د حالاتو نه خبر کړه او
هغې ته ووايه چې لاړه شى او بادشاه ته دا سوال زارى وکړى
چې د هغې په خلقو رحم وکړى. ٩ نو هتاک د مردکى د
پېغام سره اِستَر له راواپس شو، ١٠ او اِستَر هغهٔ له دا پېغام
ورکړو چې مردکى له يې يوسه، ١١ "کهٔ هر څوک، سړے يا
ښځه، د دعوت نه بغېر دننه د بادشاه دربار ته لاړ شى، نو هغه
کس به وژلے شى، دا يو قانون دے، د بادشاه د مشيرانو نه
واخله په صُوبو کښې د خلقو پورې هر يو کس د دې نه خبر
دے. د دې قانون نه د بچ کېدو صِرف يوه لار ده، کهٔ بادشاه
يو کس ته خپله د سرو زرو امسا اوږده کړى، نو د هغه کس
ژوند به بچ شى. خو د دې يوه مياشت وشوه چې بادشاه زهٔ
راغوښتے نهٔ يم." ١٢ کله چې مردکى ته د اِستَر پېغام مِلاو
شو، ١٣ نو هغهٔ اِستَر ته دا پېغام ولېږلو، "داسې مهٔ وايه چې
په ټولو يهوديانو کښې به صرف تهٔ بچ شې ولې چې تهٔ په
شاهى محل کښې يې. ١٤ کهٔ تهٔ په داسې وخت کښې هم
خاموشه پاتې شوې، نو د يو بل ځائ نه به د يهوديانو دپاره
مدد راشى او هغوئ به بچ شى، خو تهٔ به مړه شې او ستا د
پلار خاندان به ختم شى. د دې نه څوک خبر دى کېدے شى
چې تهٔ هم د دې وخت دپاره مَلِکه جوړه شوې يې." ١٥
اِستَر مردکى له دا جواب ولېږلو، ١٦ "لاړ شه او په سوسه
کښې ټول يهوديان په يو ځائ راغونډ کړه، روژه ونيسئ او
زما دپاره دُعا وکړئ. درې ورځې او درې شپې هيڅ خوراک
څښاک مهٔ کوئ. زهٔ او زما خِدمتګارې به هم ستاسو په شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روږه ونیسو. د هغې نه پس به بیا زهٔ بادشاه له لاړه شم، اګر
چې دا د قانون خِلاف ورزی ده. خو کهٔ د داسې کولو په وجه
زهٔ مرم، نو مړه دې شم.“ ۱۷ نو بیا مردکی لاړو او هغه هر
څهٔ یې وکړل چې اِستَر ورته وئیلی وُو.

## د اِستَر، د بادشاه او همان مېلمستیا کول

۵ ۱ د روژې په درېمه ورځ اِستَر شاهی لِباس واغوستلو،
لاړه او د محل په دننني دربار کښې د تخت کوټې ته مخامخ
ودرېدله. بادشاه دننه وو او د محل دروازې ته مخامخ په
شاهی تخت ناست وو. ۲ کله چې بادشاه وکتل چې مَلِکه
اِستَر دننه په دربار کښې ولاړه وه، نو بادشاه په هغې باندې
مِهربانه شو او هغهٔ خپله د سرو زرو امسا وراوړده کړه. بیا
اِستَر ورنزدې شوه او د امسا سر له یې لاس وروړو. ۳
بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”مَلِکه اِستَر خبره څهٔ ده؟ ما ته
ووایه چې تهٔ څهٔ غواړې، تهٔ کهٔ زما نیمه بادشاهی هم وغواړې
نو تا ته به مِلاو شی.“ ۴ اِستَر ورته په جواب کښې
وفرمائیل، ”بادشاه سلامت، کهٔ ستا رضا وی، نو زهٔ دا
دعوت درکوم چې تهٔ او همان زما مېلمانهٔ شئ په هغه
مېلمستیا کښې چې ما تاسو دپاره کړې ده.“ ۵ بادشاه
همان له حُکم ورکړو چې زر راشی، نو چې داسې دوئ د
اِستَر مېلمانهٔ شی. نو بادشاه او همان د اِستَر مېلمستیا له
لاړل. ۶ د مېو څښلو په وخت بادشاه د هغې نه تپوس
وکړو، ”ما ته ووایه چې تهٔ څهٔ غواړې، نو تا ته به هغه مِلاو
شی. زهٔ به ستا درخواست منظور کړم، تر دې پورې کهٔ تهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما نيمه بادشاهی هم وغواړې.“ ۷ اِستَر ورته وفرمائيل
چې، ۸ ”بادشاه سلامت، کهٔ تهٔ په ما مِهربانه شې او زما
عرض منظور کړې، نو زهٔ غواړم چې تهٔ او همان سبا زما په
يوه بله مېلمستيا کښې مېلمانهٔ شئ چې زهٔ به يې تاسو دپاره
تياروم. او سبا به درته ووايم چې زهٔ څهٔ غواړم.“

## د همان د مردکی د وژلو منصوبه جوړول

۹ کله چې همان د مېلمستيا نه لاړو نو هغه خوشحاله او
ښهٔ په سُر کښې وو. خو بيا هغهٔ مردکے وليدو چې د محل د
دروازې په خولهٔ کښې وو او کله چې هغه تېرېدو نو مردکے
ورته پانهٔ څېدو او نهٔ ورباندې د هغهٔ رُعب څهٔ اثر وکړو، نو
همان ورته سخت غصه شو. ۱۰ خو همان خپل ځان قابو
کړو او کور ته لاړو. بيا هغهٔ خپلو دوستانو له دعوت ورکړو
چې کور ته يې راشی او خپلې ښځې زرش ته يې ووئيل چې د
هغوئ سره شريکه شی. ۱۱ نو هغهٔ ورته لافې وهلې، چې
دے څومره مالداره دے او څومره ډېر زامن يې دی او
بادشاه هغهٔ له څومره اوچت مقام ورکړے دے او چې هغه د
بادشاه د نورو ټولو آفسرانو نه څومره زيات اهم دے. ۱۲
همان وئيل، ”د دې نه علاوه، مَلِکه اِستَر زما او د بادشاه نه
بغېر بل هيچا له دعوت نهٔ دے ورکړے، او سبا هغې ما له بيا
سره د بادشاه دعوت راکړے دے. ۱۳ خو چې ترڅو پورې
يهودی مردکے د محل په دروازه کښې ناست وينم نو زما
دپاره د دې هيڅ فائده نشته.“ ۱۴ نو د هغهٔ ښځې او خپلو
ټولو دوستانو هغهٔ له مشوره ورکړه، ”تهٔ يو پينځويشت ګزه
لوَړ دار ولې نهٔ جوړوې؟ سبا سحر تهٔ بادشاه ته ووايه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مردکی په هغې باندې راځوړند کړی، نو بیا به ته ښۀ په
خوشحالئ سره مېلمستیا له لاړ شې.“ نو په همان دا خبره
ښۀ ولګېده، او هغۀ هم هغه شان دار جوړ کړو.

## د بادشاه د مردکی درناوے کول

٦ ١ هم په هغه شپه بادشاه له خوب نۀ ورتلو، نو هغۀ
حُکم وکړو چې د بادشاهئ د تاریخ کِتاب دې راوړے شی او
هغۀ ته دې ولوستلے شی. ٢ نو چې هغوئ کومه حِصه
ولوستله په هغې کښې هغه واقعه شامله وه چې مردکی د
بادشاه د وژلو منصوبه څنګه څرګنده کړه او هغه منصوبه
کومه چې بِګتان او ترش، د محل دوو هغه خصیانو جوړه
کړې وه، کومو چې د بادشاه د کوټو څوکیداری کوله. ٣
بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”مونږ د دې په بدل کښې د
مردکی څنګه درناوے کړے دے او څۀ مو اِنعام ورکړے
دے؟“ نو د هغۀ نوکرانو جواب ورکړو، ”د هغۀ دپاره هیڅ نۀ
دی شوی.“ ٤ بادشاه تپوس وکړو، ”اوس په دربار کښې
څوک دی؟“ نو همان ایله دربار ته ننوتو، هغه د دې دپاره
راغلے وو چې د بادشاه نه تپوس وکړی چې مردکے په هغه
دار باندې ځوړند کړی کوم چې هغۀ اوس تیار کړے وو. ٥
نو نوکرانو جواب ورکړو، ”همان په دربار کښې دے.“
بادشاه ورته ووئیل، ”هغه راپرېږدئ چې دننه راشی.“ ٦ نو
همان راغلو او بادشاه ورته ووئیل، ”د یو کس نه چې زۀ
خوشحاله شم نو د هغۀ څنګه عزت وکړم، زۀ د دې سړی
دپاره څۀ وکړم؟“ همان د خپل ځان سره وئیل، ”داسې څوک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شته چې بادشاه يې زما نه زيات عزت کول وغواړی؟“ ۷ -
۸ نو هغۀ بادشاه له جواب ورکړو، ”حُکم وکړه چې د دې
سړی دپاره شاهی لِباس راوړلے شی، هغه چُوغې چې تۀ يې
په خپله اغوندې. او هغه آس چې تا پرې پخپله سورلی کړی
وی او په تندی يې شاهی نښه لګېدلی وی. ۹ بيا د خپل
لوئ عزتمند مشر په لاس دې سړی ته شاهی لباس ورواغونده
او د ښار په کوڅو کښې يې په آس باندې سور بوځه. کله چې
هغوئ روان وی نو هغه مشر سړے دې دا اِعلان کوی چې،
وګورئ بادشاه چې د چا درناوے کول غواړی نو هغه يې
داسې عزت کوی.“ ۱۰ بيا بادشاه همان ته ووئيل، ”زر شه
او شاهی لِباس واخله او آس بوځه او د مردکی يهودی داسې
درناوے وکړه. لکه څنګه چې تا مشوره راکړې ده نو د هغې
په مطابق د هغۀ دپاره هغه هر څۀ وکړه. هغه به د محل د
دروازې په خولۀ کښې ناست ووينې.“ ۱۱ نو همان شاهی
لِباس واخستلو او مردکی ته يې ورواغوستلو او د بادشاه په
آس يې سور کړو او همان هغه د ښار په کوڅو کښې بوتلو او
خلقو ته يې اِعلان کولو چې، ”وګورئ چې بادشاه د چا
درناوے کول وغواړی نو هغه يې داسې عزت کوی.“ ۱۲ نو
مردکے بيا واپس د محل دروازې ته راواپس شو خو په دې
دوران کښې همان خفه او شرمنده کور ته تيز لاړو. ۱۳ هغۀ
خپلې ښځې او ټولو دوستانو ته هغه هر څۀ ووئيل چې څۀ
شوی وُو. بيا هغې او د هغۀ هوښيارو ملګرو هغۀ ته ووئيل،
”په مردکی باندې ستا هيڅ زور نۀ رسی. هغه يو يهودی دے
او څکه تۀ په هغۀ باندې برے نۀ شې موندلے. هغه به خامخا
تا له شکست درکړی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ کله چې هغوئ لا خبرې کولې، نو د محل خصيان
راورسېدل او همان يې د اِستَر مېلمستيا له بوتلو.

# ۷

۱ نو بادشاه او همان د اِستَر سره روټئ خوړلو له لاړل
۲ او دا دويم ځل وو. د ميو څښلو په وخت بادشاه د هغې
نه بيا تپوس وکړو، "مَلِکه اِستَر، اوس چې تهٔ زما نه څهٔ هم
وغواړې نو تا ته به مِلاو شى. زهٔ به تا له زما نيمه بادشاهى
هم درکړم." ۳ مَلِکه اِستَر جواب ورکړو، "بادشاه سلامت،
کهٔ ستا رضا وى نو زما دا يو عاجزانه سوال قبول کړه، زما
خواهش دا دے چې زما او زما د خلقو ژوند بچ شى. ۴ زهٔ
او زما خلق د حلالولو، او ختمولو دپاره خرڅ کړے شوى
يُو. کهٔ مونږ صرف د نوکرانو په حيثيت خرڅ شوے وے، نو
زهٔ به خاموش پاتې وے او دا تکليف به مې نهٔ درکولے." ۵
اخسويرس بادشاه د مَلِکه نه تپوس وکړو، "د داسې کار کولو
جرأت څوک کولے شى؟ هغه سړے چرته دے؟" ۶ اِستَر
جواب ورکړو، "زمونږ دشمن، ظالم او هغه مکار سړے دا
همان دے." نو د همان رنګ د بادشاه او مَلِکه په مخکښې
تک زيړ شو. ۷ بادشاه په غصه کښې پاڅېدو، د مېلمستيا
نه روان شو او د محل باغونو ته بهر لاړو. همان ته پته ولګېده
چې بادشاه د هغهٔ د وژلو اراده لرى، نو هغه ايسار شو د دې
دپاره چې اِستَر ته د خپل ژوند د بچ کولو سوال وکړى. ۸
هغهٔ د مِنت زارئ دپاره خپل ځان د اِستَر په کټ باندې
ورغورزولو نو هم په هغه وخت بادشاه د باغونو نه واپس
کوټې ته راغلو او چې دا يې وليدل نو بادشاه چغه کړه چې،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”دا سړے دلته هم زما په خپل محل کښې زما په وړاندې
اِستَر ته لاس وراچوی؟“ بادشاه چې خنګه دا ووئیل نو
خصیانو د همان مخ پټ کړو چې قتل کړے شی. ٩ نو د
بادشاه یو خصی، خربونا ووئیل، ”ګورئ، همان خو د مردکی
د راځوړندولو دپاره په کور کښې پینځویشت ګزه اوچت یو
دار جوړ کړے دے. بادشاه سلامت، مردکی هغه څوک دے
چې چا ستا ژوند بچ کړے وو.“ بادشاه حُکم وکړو، ”همان
په دې باندې ځوړند کړئ.“ ١٠ نو همان په هغه دار باندې
ځوړند کړے شو کوم چې د مردکی دپاره جوړ شوے وو. او
بیا د بادشاه غصه سړه شوه.

## یهودیانو ته د جنګ کولو حُکم مِلاویدل

٨ ١ هم په هغه وخت اخسویرس بادشاه مَلِکه اِستَر له د
همان ټول جائیداد ورکړو، دا هم هغه همان وو کوم چې د
یهودیانو دشمن وو. اِستَر بادشاه ته وفرمائیل چې مردکی د
هغې خپلوان دے، نو د هغه وخت نه مردکی ته دا اجازت وو
چې د بادشاه حضور ته دننه راشی. ٢ بادشاه خپله هغه
ګوتمه وویستله چې مهر ورباندې وو او چې کومه یې د همان
نه واپس اخستې وه او مردکی له یې ورکړه. اِستَر مردکی د
همان د جائیداد مشر جوړ کړو. ٣ نو اِستَر بادشاه له بیا
لاړه او د هغهٔ په پښو پرېوته، وې ژړل او مِنت زاری یې ورته
وکړه چې د هغه خرابې منصوبې خِلاف څهٔ وکړی کومه چې
د اجاج اولاد همان د یهودیانو خِلاف جوړه کړې ده. ٤
بادشاه هغې ته خپله د سرو زرو امسا بیا وراُږده کړه، نو هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ودرېده او وې فرمائيل، ٥ "بادشاه سلامت، کهٔ ستا رضا
وی او کهٔ تا سره زما فکر وی او دا تا ته ښهٔ ښکاری، نو
مِهربانی وکړه چې دا فرمان جاری کړه چې د همان په حُکم
باندې دې عمل نهٔ کېږی، دا هغه حُکم وو چې د اجاج قبيلې د
همداتا زوئ همان د ټولو يهوديانو د وژلو دپاره ورکړے وو.
٦ کهٔ دا افت زما په خلقو باندې راشی او چې زما خپلوان
ووژلے شی نو بيا زهٔ دا څنګه برداشت کولے شم؟" ٧ بيا
اخسويرس بادشاه مَلِکه اِستَر او مردکی يهودی ته ووئيل،
"ګورئ، ما همان د يهوديانو خِلاف د منصوبې په وجه
پهانسی کړے دے او ما اِستَر له د هغهٔ جائيداد هم ورکړے
دے. ٨ خو د بادشاه په نوم چې کوم فرمان جاری شوے
وی او په هغې باندې شاهی مهر لګولے شوے وی نو هغه نهٔ
واپس کېږی. خو يهوديانو ته هغه څهٔ ليکلے شئ څهٔ چې
ستاسو زړهٔ غواړی، او دا زما په نوم ليکلے شئ او شاهی
مهر ورباندې ولګولے شئ." ٩ نو د دريمې مياشتې يعنې د
سيوان د مياشتې په درويشتمه ورځ داسې وشول. مردکی د
بادشاه منشيان راوغوښتل او يهوديانو، حکمرانانو، وزيرانو او
د هِندوستان نه واخله تر ايتهوپيا پورې د يو سل او اوويشتو
صُوبو آفسرانو ته يې خطونه وليکل. خطونه هرې صُوبې ته
په خپله ژبه او رسم‌الخط کښې او يهوديانو ته په خپله ژبه او
رسم‌الخط کښې ليکلے شوی وُو. ١٠ مردکی خطونه د
اخسويرس بادشاه د طرف نه ليکلی وُو او په دې باندې يې
شاهی مهر لګولے وو. دا په هغه تيزو آسونو باندې سوارو
کسانو په ذريعه رسولے شوی وُو چې کوم آسونه د بادشاه
دپاره ساتلے شوی وُو. ١١ په دې خطونو کښې دا تفصيل
وو چې بادشاه به په هر ښار کښې يهوديانو له دا اجازت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړی چې د خپلو ځانونو د حِفاظت دپاره متحد شی. کهٔ د
یو قوم فوجیان په هره یوه صُوبه کښې په یهودی سړو باندې،
د هغوئ بچو او ښځو باندې حمله وکړی، نو یهودیان به هم
وریاندې حمله کوی او حمله کوونکی به تباه کړی، هغوئ دې
تر آخری کس پورې ووژنی او د هغوئ هر څهٔ دې لوټ کړی.
۱۲ دا فرمان د فارس په ټول سلطنت کښې په هغه ورځ
عملی کولے شو چې کومه د یهودیانو د وژلو دپاره مقرره
وه، دا د دولسمې یعنې د ادر میاشتې دیارلسمه ورځ وه. ۱۳
د دې قانونی اِعلان شوے وو او په هره صُوبه کښې هر
څوک د دې نه خبر وُو، نو چې کله هغه ورځ راشی نو
یهودیان به د دشمن نه د بدل اخستلو دپاره تیار وی. ۱۴ د
بادشاه په حُکم په شاهی آسونو سوارهٔ پیغام وړُونکی تېز
لاړل. هغه فرمان په مرکزی ښار سوسه کښې هم جاری
شوے وو. ۱۵ مردکے د محل نه لاړو چې شاهی لِباس یعنې
آسمانی او سپین رنګ جامې، د کاسنی رنګ د مهینې لټې یوه
چُوغه يې اغوستې وه او د سرو زرو یو زبردست تاج يې په
سر وو. بیا د سوسه کوڅې د لاسونو د پړقاری او د
خوشحالئ د چغو نه ډکې شوې. ۱۶ یهودیانو خوشحالی،
راحت، خندا او عزت محسوسولو. ۱۷ هر ښار او هرې
صُوبې ته هم چې د بادشاه فرمان ورسېدو، نو یهودیان
خوشحاله وُو. هغوئ مېلمستیا او جشن وکړو. او په هغوئ
کښې نور ډېر خلق په دې وجه یهودیان شول، ځکه چې د
یهودیانو نه یرېدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهودیانو خپل دشمنان تباه کول

٩ ١ د ادر میاشتې دیارلسمه ورځ راغله، دا هغه ورځ وه
چې په دې باندې شاهی فرمان عملی کول وُو، هغه ورځ چې
د یهودیانو دشمنانو دا اُمید لرلو چې یهودیان به د خپل طاقت
لاندې راولی. خو یهودیانو ورباندې فتح ومونده. ٢ د
اخسویرس په ټوله بادشاهۍ کښې یهودیان په خپلو ښارونو
کښې د هغه چا خِلاف یو شول چا چې په هغوئ د حملې
کوشش کولو. د هر ځائ خلق د هغوئ نه یرېدل او هیچا د
هغوئ مقابله نهٔ شوه کولے. ٣ د صُوبو ټولو آفسرانو،
حکمرانانو، وزیرانو او شاهی نمائندګانو د یهودیانو مدد په دې
وجه وکړو چې هغوئ د مردکی نه یرېدل. ٤ په ټوله
بادشاهۍ کښې دا ښهٔ مشهوره وه چې مردکی اوس په محل
کښې یو تکړه سړے وو او نور هم تکړه کېدو. ٥ نو په هغه
ورځ کښې یهودیانو خپل دشمنان په تُورو ووژل او نیست او
نابود یې کړل. او چا چې د یهودیانو نه نفرت کولو د هغوئ
سره یې د خپلې مرضی په مطابق عمل وکړو. ٦ د سوسه
په مرکزی ښار کښې یهودیانو پینځهٔ سوه کسان ووژل. ٧-
١٠ همان د همداتا زوئ چې د یهودیانو دشمن وو د هغهٔ لس
زامن هم په کښې وژلے شوی وُو، چې نومونه یې دا دی،
پرشنداتا، دلفون، اسپاتا، پوراتا، ادلیاه، اردتا، پرمشتا،
اریسی، ارِدی او ویزاتا، دا ټول مړهٔ شول خو لوټ مار ونهٔ
شو. ١١ هم په هغه ورځ بادشاه خبر کړے شو چې په سوسه
کښې څومره کسان وژلے شوی دی. ١٢ بیا بادشاه مَلِکه
اِستَر ته ووئیل، "صِرف د سوسه په قلعه کښې یهودیانو پینځهٔ
سوه کسان وژلی دی، چې په دې کښې د همان زامن هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شامل دى. چې دلته دومره زيات وژلے شوى دى نو په
صُوبو کښې به څۀ شوى وى. اوس تۀ څۀ غواړې؟ تۀ ووايه
کۀ نور څۀ هم غواړې نو در به کړے شى.“ ١٣ اِستَر ورته په
جواب کښې وفرمائيل، ”بادشاه سلامت، کۀ ستا رضا وى،
نو يهوديانو له سبا په سوسه کښې يو ځل بيا د نن په شان
اجازت ورکړه. او دا حُکم ورکړه چې د همان د لسو زامنو
لاشونه په دار باندې ځوړند کړے شى.“ ١۴ نو بادشاه حُکم
وکړو چې داسې دې وشى او په سوسه کښې دا فرمان جارى
شو. د همان د لسو زامنو لاشونه په دار راځوړند کړے شول.
١۵ د ادر مياشتې په څوارلسمه ورځ د سوسه يهوديان يو
ځل بيا يو ځائ شول او په ښار کښې يې درې سوه نور
کسان ووژل. خو هغوئ بيا هم څۀ لوټ مار ونۀ کړو. ١۶
يهوديان په صُوبو کښې هم د خپلو ځانونو د حِفاظت دپاره
راغونډ شول. هغوئ د خپلو دشمنانو نه داسې ځانونه خلاص
کړل چې پينځۀ اويا زره يې هغه کسان ووژل چا چې د هغوئ
نه نفرت کولو. خو هغوئ لوټ مار ونۀ کړو. ١٧ دا د ادر د
مياشتې په ديارلسمه ورځ باندې وشول. په ورپسې ورځ يعنې
په څوارلسمه ورځ باندې نور قتلونه ونۀ شول او هغوئ په دې
ورځ د خوشحالۍ نه يې ميلمستيا وکړه. ١٨ خو د سوسه
يهوديانو پينځلسمه ورځ د چُهټۍ ورځ وګرځوله، ځکه چې
هغوئ په ديارلسمه او څوارلسمه ورځ باندې خپل دشمنان
وژلى وُو او په پينځلسمه ورځ يې وژل بس کړى وُو. ١٩ نو
په دې وجه هغه يهوديان کوم چې په کلو کښې اوسيږى هغوئ
د ادر د مياشتې په څوارلسمه ورځ د خوشحالۍ چُهټى کوى،
په دې وخت باندې هغوئ ميلمستيا کوى او يو بل له د
خوراک دپاره تُحفې ورکوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پوریم اختر

٢٠ مردکی دا واقعې لیکلې وې او د فارس په ټول سلطنت
کښې نژدې او لرې ټولو یهودیانو له یې خطونه لیږلی وُو، ٢١
هغوئ ته یې وئیلی وُو چې هر کال د ادر میاشتې په
څوارلسمه او پینځلسمه ورځ اختر کوئ. ٢٢ دا هغه ورځې
وې چې په هغې باندې یهودیانو د خپلو دشمنانو نه ځانونه
خلاص کړل، دا هغه میاشت وه چې د غم او د خفګان وخت
نه په خندا او خوشحالۍ باندې بدله شوې وه. هغوئ ته وئیلے
شوی وُو چې په دې ورځو باندې خوشحالی او مېلمستیا
وکړئ او یو بل او غریبانانو له د خوراک دپاره تُحفې ورکړئ.
٢٣ نو یهودیانو د مردکی په اصُولو باندې عمل وکړو او دا
اختر د هر کال رِواج جوړ شو. ٢٤ د همداتا زوئ همان چې
د اجاج د اولاد نه وو او د یهودیانو دشمن وو، هغۀ پچه
واچوله چې دا پوریم بللے شوه، دا د دې دپاره وه چې د
یهودیانو د تباهۍ ورځ معلومه کړی، هغۀ دا منصوبه جوړه
کړې وه چې هغوئ صفا ختم کړی. ٢٥ خو اِستَر بادشاه له
لاړه او بادشاه د دې نتیجې سره یو لیکلے فرمان جاری کړو
چې همان د یهودیانو دپاره کومه منصوبه جوړه کړې وه نو
هغه ورته اولټه راوګرځېده او هغه او د هغۀ زامن په دار باندې
پهانسی کړے شول. ٢٦ نو ځکه هغې ته د پوریم اختر وائی،
پخوا زمانه کښې به دا لفظ د پچې اچولو دپاره استعمالیدو. د
مردکی د خطونو په وجه او د هغه هر څۀ په وجه چې په
هغوئ شوی وُو، ٢٧ یهودیانو د خپلو ځانونو، د خپل اولاد
او د هغه چا دپاره دا اصُول جوړ کړو چې څوک یهودی شی،
نو هر کال به په صحیح وخت باندې دا دوه ورځې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باقاعدګۍ سره د مردکی د اصُولو په مطابق مناووی. ۲۸ دا
فیصله شوې وه چې د یهودیانو د خاندان راتلونکے هر یو
نسل چې په هره صُوبه یا ښار کښې وی په راتلونکی ټولو
وختونو کښې به د پوریم دا ورځې یادې ساتی او دا ورځې به
مناووی. ۲۹ بیا د ابی‌خېل لور مَلِکه اِستَر هم، د مردکی سره
یو خط ولیکلو او چې مردکی کوم خط د پوریم په باره کښې
مخکښې لیکلے وو د هغې د تصدیق دپاره هغې خپل ټول
لیکلے اختیار هم شامل کړو. ۳۰ دا خط د ټولو یهودیانو
دپاره وو او د دې نقلونه د فارس سلطنت ټولو یو سل او
اوویشتو صُوبو ته لېږلے شوی وُو. په دې کښې د یهودیانو
خېر او امن غوښتے شوے وو ۳۱ او هغوئ او د هغوئ
اولاد ته یې دا نصیحت کړے وو چې په صحیح وخت باندې
د پوریم ورځې هم هغه شان مناو کړی، لکه څنګه چې هغوئ
د روژو د نیولو او د غم د وخت اصُول خپل کړی دی. د دې
حُکم مردکی او مَلِکه اِستَر دواړو کړے وو. ۳۲ د اِستَر هغه
حُکم کوم چې د پوریم د اصُولو پوره کېدل وو هغه په یو
کِتاب کښې لیکلے شوے وو.

## د اخسویرس او مردکی شان او شوکت

# ۱۰

۱ اخسویرس بادشاه د خپلې بادشاهۍ نه د سمندر
د غاړې پورې محصُول اخستلو. ۲ هغهٔ چې کوم لوئ او
عجیبه کارونه کړی وُو او هم داسې هغه ټوله قیصه چې هغهٔ
مردکی له د اوچتې عُهدې ترقی څنګه ورکړه، دا د فارس او
مادی د بادشاهانو د تاریخ په کِتاب کښې لیکلے شوی دی.
۳ مردکی یهودی په عهده کښې په بادشاه پسې دویم کس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. د خپلو یهودیانو هغه ډېر خوښ وو او ډېر عزتمند وو. هغهٔ د خپلو خلقو د فائدې دپاره او د ټولو یهودیانو د ګټې دپاره کار کولو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.